د پوهنې وزارت

پښتو

دریم ټولګی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش.

پښتو - دریم ټولګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي هم ایماق، هم پشه یان
دا هېواد به تل ځلیږي لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

پښتو

دریم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ.ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: پښتو

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د پښتو برخې د درسي کتابونو مؤلفین

اډیټ کوونکي: د پښتو ژبې د اډیټ دیپارتمنټ غړي

ټولګی: درېم

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای: کابل

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د درسي کتابونو د چاپ، وېش او پلورلو حق د افغانستان اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت سره محفوظ دی. په بازار کې یې پلورل او پېرودل منع دي. له سرغړوونکو سره قانوني چلندکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کیږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپیڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي ېې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

فـــهرست

شمېرې	سرليکونه	درسي ساعتونه	مخونه
۱	قرآن کريم	۳	۱
۲	د حضرت محمد ﷺ پېژندنه	۳	۳
۳	حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه	۳	۵
٤	د ښوونکي مقام	۳	۷
۵	کيسې	۳	۹
٦	کتاب	۳	۱۱
۷	قلم	۳	۱۳
۸	لوبې	۳	۱۵
۹	بې پروايي	۳	۱۷
۱۰	د مور درناوی	۳	۱۹
۱۱	ليک او لوست	۳	۲۱
۱۲	د خبرو کولو آداب	۳	۲۳
۱۳	خواخوږي	۳	۲۵
۱٤	روغه جوړه	۳	۲۷
۱۵	مايننه	۳	۲۹
۱٦	ترافيکي لارښوونې	۳	۳۱
۱۷	روغتيا	۳	۳۳
۱۸	متلونه	۳	۳۵
۱۹	د ناروغۍ رقعه	۳	۳۷
۲۰	پاکه هوا او پاکې اوبه	۳	۳۹
۲۱	کيسه	۳	٤۱
۲۲	دکور په کارونو کې مرسته	۳	٤۳
۲۳	د چاپېريال ساتنه	۳	٤۵
۲٤	د غاښونو ساتنه	۳	٤۷
۲۵	زمونږ هېواد	۳	٤۹
۲٦	د ښوونځي آداب	۳	۵۱
۲۷	سوله	۳	۵۳
۲۸	پندونه	۳	۵۵
۲۹	دماشومانوترمنځ‌ښې اړيکې	۳	۵۷
۳۰	يووالی	۳	۵۹
۳۱	اوړی	۳	٦۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېرې	سرليکونه	درسي ساعتونه	مخونه
۳۲	د ونو ګټې	۳	٦۳
۳۳	د وخت ارزښت	۳	٦۵
۳٤	ژوند او کار	۳	٦۷
۳۵	بزګر	۳	٦۹
۳٦	ترکاڼ	۳	۷۱
۳۷	برېښنا	۳	۷۳
۳۸	تلېفون	۳	۷۵
۳۹	ترانه	۳	۷۷
٤۰	مور او پلار ته لیک	۳	۷۹
٤۱	غزني	۳	۸۱
٤۲	وزلوبه	۳	۸۳
٤۳	د خوسي لوبه	۳	۸۵
٤٤	اور	۳	۸۷

شمېرې	سرليکونه	درسي ساعتونه	مخونه
٤۵	په حیواناتو زړه سوی	۳	۸۹
٤٦	کار	۳	۹۱
٤۷	لیک نښې	۳	۹۳
٤۸	کلمه	۳	۹۵
٤۹	ټوکه	۳	۹۷
۵۰	جمله	۳	۹۹
۵۱	پاک خواړه	۳	۱۰۱
۵۲	د مېوو ګټې	۳	۱۰۳
۵۳	د چرګانو ساتنه	۳	۱۰۵
۵٤	ملي شتمني	۳	۱۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن کریم

موخه: د متن سم لوستل، ښه لیکل او د قرآن کریم په اړه د زیاتو معلوماتو ترلاسه کول.

پوښتنه:

ـ آیا تاسو پوهیږئ چې قرآن کریم په چا نازل شوی دی؟

قران کریم د الله ﷻ کتاب دی. یوسلو څوارلس سورتونه او دېرش سپارې لري. پر حضرت محمد ﷺ نازل شوی دی.

مورِ مسلمانان پرې ایمان لرو. هر سهار قرآن کریم لولو او په لارښوونو یې عمل کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د لوست متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د متن یوه یوه جمله د ټولګي په مخ کې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ څو زده کوونکي دې له متن څخه دوې دوې کلمې پر تختې ولیکي او نور دې په وار سره هغه معنا کړي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د (کتاب، ایمان او سهار کلمې) پر تختې ولیکي او نور دې په تورو ووښي.

لغتونه	معناوې
نازل	رالیږل شوی
ایمان	باور

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت محمد ﷺ پېژندنه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د حضرت محمد ﷺ پېژندنه.

پوښتنې:

ـ په پورتني انځور کې څه وینئ؟

ـ د حضرت محمد ﷺ په هکله څه ویلای شئ؟

د حضرت محمد ﷺ د پلار نوم عبدالله او د نیکه نوم یې عبدالمطلب و. حضرت محمد ﷺ د قریشو له قوم څخه و. حضرت محمد ﷺ له کوچنیوالي څخه د ښو اخلاقو خاوند و. حضرت محمد ﷺ په څلوېښت کلنۍ کې پېغمبر شو او قرانکریم وروباندې نازل شوی دی. د پیغمبرانو دنده د انسانانو لارښوونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن ولولي.

ـ زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه کلمې جوړې کړي.

ح ـ ض ـ ر ـ ت ( )

ن ـ ا ـ ز ـ ل ( )

پ ـ ل ـ ا ـ ر ( )

ـ زده کوونکي دې لاندې لغتونه په جملو کې استعمال کړي.

خاوند ـ عبدالله ـ قرآنکریم ـ محمد

ـ زده کوونکي دې د خپل ګران پیغمبر، حضرت محمد ﷺ په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
قریش	د عربو یو قوم دی
پیغمبر	استازی، لارښوونکی

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لاندې جملې په خپلو کتابچو کې پنځه پنځه ځلې وليکي

حضرت محمد ﷺ د عبدالله زوی دی.

حضرت محمد ﷺ زمونږ پیغمبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه پېژندل.

پوښتنه:

ـ تاسو د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه نوم اوربدلی دی؟

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لومړی یار و. اصلي نوم يې عبدالله او د پلار نوم يې عثمان و. په نارینه وو کې نومورې لومړنی صحابي و چې پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم يې ایمان راوړ. حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په خپلو ټولو کړنو کې صادق و. له دې امله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم هغه ته د صدیق لقب ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ زده کوونکي دې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په هکله یو له بل سره خبرې وکړي.

ـ یو زده کوونکی دې د(صحابي، عثمان، صدیق او لقب) کلمې پر تختې ولیکي او څو نور دې په وار سره د هغو توري وښیي.

ـ څو زده کوونکي دې د خپلو ورځنیو کارونو په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
یار	ملګری
صحابي	د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یار او هم صحبت

کورنۍ دنده:

ـ زده کوونکي دې متن څو ځلې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونکي مقام

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د ښوونکي په مقام پوهېدل.



پوښتنې:

ـ په انځور کې څه وینئ؟

ـ څه فکر کوئ ښوونکی په مور د چا په شان حق لري؟

ښوونکی مور ته لیک او لوست را زده کوي. سمې لارې ته مو رابولي. ښوونکی پر مور د مور او پلار په شان حق لري. مور د ښوونکو درناوی کوو او خبرو ته یې غور نیسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د یو بل په مرسته متن ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې د ښوونکي د مقام په اړه خبرې وکړي.

ـ څو زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه کلمې جوړې کړي.

ښ ـ و ـ و ـ ن ـ ک ـ ی ( )

م ـ و ـ ر ( )

پ ـ ل ـ ا ـ ر ( )

ـ یو زده کوونکی دې د (لیک، لوست، درناوی) کلمې پر تختې ولیکي او څو نور دې په وار سره د ښوونکي په مرسته هغه په جملو کې استعمال کړي.

ـ درې زده کوونکي دې د ښوونکي په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغت	معنا
درناوی	احترام

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست د کتاب له مخې څو ځلې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسې

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او له کیسې سره بلدتیا.

پوښتنه:

ـ تاسو کومه کیسې اوربدلې ده؟

هغه څه شی دی؟

ټوله ورځ ګرځي، ګرځي؛ چې شپه شي د یوې روپۍ ځای نیسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د کیسې متن په خپل منځ کې ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي د کیسې متن دې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د تختې مخې ته راشي د کیسې یوه یوه جمله دې د تختې پرمخ ولیکي.

ـ یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي او کومه یوه کیسې چې یې زده وي ووایي او نور دې ځواب پیدا کړي.

لغت	معنا
کیسې	چیستان

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ د غړو په مرسته یوه کیسې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د کتاب د ارزښت په اړه خبرې کول.

پوښتنه:

ـ په پورته انځور کې څه شی وینئ؟

کتاب زمونږ ښه ملګری دی. له لوستلو او لیکلو څخه یې پوهه تر لاسه کیږي. زمونږ په کتاب کې ډېر ښه مطلبونه راغلي دي.

موږ له خپلو کتابونو سره مینه لرو. خپل کتابونه پاک ساتو. پاڼې یې نه شکوو. موږ په ښوونځي او کور کې خپل درسونه لولو او بیا یې په کتابچو کې لیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي وروسته پورتنی لوست ولولي.

ـ زده کوونکي دې لاندې جملې ولولي او څو ځلې دې په خپلو کتابچو کې وليکي:

ـ دا کتاب دی.

ـ د کتاب لوستل ګټې لري.

ـ ښه ماشومان خپل کتابونه پاک ساتي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د (کتاب، پوهه، پاک او متن) کلمې د تختې پر مخ وليکي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د (ښوونځي، کتابچې او ساتل) کلمې پر تختې وليکي او نور دې په لنډو جملو کې استعمال کړي.

ـ څو زده کوونکي دې د کتاب په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
نه شکوو	نه پرېکوو
پوهه	علم
مینه	محبت

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په لاندې کلمو سره ډک کړي:

ګټور ـ پاک ـ ښه

ـ موږ خپل کتابونه ( ) ساتو.

ـ کتاب زموږ ( ) ملګری دی.

ـ د کتاب لوستل ( ) کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلم

موخه: د متن سم لوستل، ښه لیکل او د قلم په اهمیت پوهېدل.



پوښتنه:

ـ په انځور کې څه وینئ؟

قلم د لیکلو وسیله ده. مور په قلم لیکل کوو. قلم ډېر ډولونه لري، لکه: دکړکي، پنسل، خودرنګ، خودکار او توش قلمونه. څوک چې د کړکي په قلم لیکل کوي، لیک بې ښکلی کیږي. مور ډېر لیکل کوو چې لیک مو ښکلی شي.

د قلم په واسطه د انسان فکر، خیال او پوهه کتابونو ته لیږدول کیږي او نورو ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ څو زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته لوست ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ څو زده کوونکي دې لاندې کلمې په لنډو جملو کې استعمال کړي.

قلم – کړکی – پنسل – خودکار – لیکل

ـ زده کوونکي دې له لاندینیو تورو څخه کلمې جوړې کړي.

ق ـ ل ـ م ( )، ک ـ ړ ـ ک ـ ی ( )، پ ـ ن ـ س ـ ل( ).

ـ یو زده کوونکی دې د (قلم، ښکلی، خودرنګ) کلمې پر تختې ولیکي بل دې هغه په لنډو جملو کې استعمال کړي.

ـ څو زده کوونکي دې د قلم په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
وسیله	واسطه
ښکلی	ښایسته

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې څو ځلې په کور کې لوست ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبې

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د ګټورو لوبو پیژندل.

پوښتنه:

ـ په انځورونو کې څه وینئ؟

ماشومان ډول ډول لوبې کوي، لکه: اکوبکو، خوسی، رسۍ کشول، پټ پټانی، نانځکې، ټال او داسې نور. د بېلګې په ډول د رسۍ کشولو لوبه در پېژنو:

د رسۍ کشولو لوبه د دوو ډلو تر منځ سرته رسېږي. هرې ډلې، چې رسۍ خپلې خوا ته ډېره کش کړه هماغه ډله ګټونکې ده. په دې باید وپوهېږو چې لوبې کول روغتیا ته ګټه رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ څو زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته په وارسره په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او متن دې په لوړ غږ ولولي، نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ زده کوونکي دې لاندې کلمې معنا او بیا دې په کتابچو کې ولیکي.

ـ رسۍ ـ لوبه ـ ټال ـ کش

ـ زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. د رسۍ کشولو لوبه دې د لوبو په میدان کې په عملي توګه تر سره کړي.

ـ یو زده کوونکی دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او د (ماشومان، نانځکې، خوسی) کلمې دې د تختې پر مخ ولیکي، بل دې معنا او نور دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، یوه لوبه دې نورو ته وروپیژني.

لغتونه	معناوې
پټ پټانی	د یوې سمیزې لوبې نوم، کلیوالي لوبه.
نانځکه	ګډې

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست ولولي او بیا دې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې پروايي

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د بې پروايي په معنا او مفهوم پوهېدل.

پوښتنه:

ـ څه فکر کوئ بې پروايي د څه شي لامل کېږي؟

احمد د مور، پلار او ښوونکي لارښوونو ته پاملرنه نه کوله. تل به يې د سړک ترڅنګ لوبې کولې، يوه ورځ يې په لوبو کې توپ په سړک کې ولوېد، احمد د سړک په منځ کې په توپ پسې منډې وهلې، چې موټر راغی، هغه يې وواهه، خلک پرې راټول شول او هغه يې روغتون ته يووړ، روغتون کې څرګنده شوه چې احمد يوه پښه ژوبله شوې وه.

مور بايد د لوبو ځايونه وپيژنو، د مور، پلار او ښوونکي لارښوونو ته پاملرنه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ یو زده کوونکی دې له ښوونکي څخه وروسته متن په لوړ او مناسب غږ ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي په وار سره دې د بې پروایي په اړه یوه یوه جمله پر تختې ولیکي، نور زده کوونکي دې په کتابچو کې ولیکي.

ـ یو زده کوونکی د (روغتون، توپ، موټر، منځ) کلمې پر تختې ولیکي نور دې په وار سره په جملو کې وکاروي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د بې پروایي په اړه دې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
پاملرنه	توجه
روغتون	شفاخانه
ژوبله	خوږه (تېږي)

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې د بې پروایۍ په باب څو جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور درناوی

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د مور د لوړ مقام پېژندل.

پوښتنه:

ـ تاسې په انځور کې څه وینئ؟

مور یو ښکلی او خوږ نوم دی. مور په هر چا ګرانه وي.
موږ له خپلې مور سره مینه لرو. ځکه چې موږ یې له ډېرو ستونزو سره پاللې او لوی کړي یو.
خبره یې منو او درناوی پې پر موږ لازم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ یو زده کوونکی دې له ښوونکي څخه وروسته متن ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په ډلو کې د مور د درناوي په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

ـ که د مور په کلمه کې د (م) توري پر ځای د (خ) یا (ک) توری راشي کومې کلمې ترې جوړیږي؟

ـ یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي د (مور، درناوی، ګرانه) کلمې دې پرتختې ولیکي او نور دې هغه په جملو کې وکاروي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګیوالو په وړاندې د مور په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
ستونزو	مشکلات
درناوی	احترام

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليک او لوست

موخه: د متن سم لوستل، ليکل د ليک او لوست په ارزښت او ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ څه فکر کوئ چې ليک او لوست څه ګټې لري؟

ليک او لوست د پوهې کيلي ده. د اسلام مقدس دين هم د علم او پوهې زده کړه په نارينه او ښځو فرض کړې ده.

يو هېواد هغه وخت ترقي او سوکالۍ ته رسېږي چې د هغه وګړي د ليک او لوست خاوندان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د لیک او لوست په اړه دې خبرې وکړي.

ـ یو زده کوونکی دې د (لیک، لوست، کار) کلمې پرتختې ولیکي، نور زده کوونکي دې په وار سره یوه یوه کلمه په لنډو جملو کې استعمال کړي.

ـ زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته لاندې فعالیت تر سره کړي:

که د کار په کلمه کې د ((ک)) توري پر ځای د ((ت)) توری او د لیک په کلمه کې د ((ل)) توري پر ځای د ((ټ)) توری راشي، کومې کلمې ورڅخه جوړیږي.

لغتونه	معناوې
وګړي	خلک
سوکالي	آبادي

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لیک او لوست په هکله څلور څلور جملې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خبرو کولو آداب

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د خبرو کولو په آدابو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر د خبرو کولو آداب کوم دي؟

ملالۍ ښه نجلۍ ده. کله چې ټولګي ته راشي، ټولو ته سلام اچوي. د خبرو کولو پر مهال وار په پام کې نيسي. د نورو خبرو ته غوږ نيسي. خپل مطلب په لنډو او خوږو جملو کې بيانوي. ملالۍ پر خپلو ټولګيوالو او ښوونکو ګرانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي نوی لوست دې په مناسب غږ ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې په خپله خوښه د تختې مخې ته راشي د (سلام، خپل، غوږ او ټولګي) کلمې دې پرتختې ولیکي او نور دې یوه یوه کلمه په لنډو جملو کې استعمال کړي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره له لاندې تورو څخه کلمې جوړې کړي او نور دې ولولي:

ن ـ ج ـ ل ـ ی	( )	پ ـ ا ـ م	( )		
س ـ ل ـ ا ـ م	( )	گ ـ ر ـ ا ـ ن ـ ه	( )		
م ـ ل ـ ا ـ ل ـ ی	( )				

ـ څو زده کوونکي دې د خبرو کولو د آدابو په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
پام	فکر
سلام اچوي	سلام ورکوي

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست څو ځلې په کور کې له ځان سره ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواخوږي

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د خواخوږی په مفهوم پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په نظرخواخوږي څه ته وایي؟

خواخوږي يو انساني او اسلامي صفت دی.

ښه زده کوونکي يو له بل سره خواخوږي لري، له اړو کسانو سره مرسته کوي.

مور بايد له انسانانو سره خواخوږي او پر حيواناتو زړه سوی ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې متن د ټولګیوالو په وړاندې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې د (خواخوږی، زړه سوي، خوشحالی) کلمې پرتختې ولیکي او نور دې یوه یوه کلمه په جملو کې استعمال کړي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره پر حیواناتو باندې د زړه سوي په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
خواخوږي	زړه سوی
اړو	محتاجو

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې نوی متن په کورونو کې ولولي او په خپلو کتابچو کې دې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغه جوړه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د روغې جوړې په مفهوم او اهميت پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر روغه جوړه څه ته وايي؟

د دوو مخالفو ډلو يا خواوو پخلا کولو ته روغه جوړه وايي. کله کله د خلکو ترمنځ خپګان پيدا کيږي. که خپګان اوږد شي، په دښمنۍ اوړي. بايد خپګان اوږدېدو ته پرې نه ښودل شي. روغه جوړه په ټولنه کې سوله، يووالی او نيکمرغي راولي. د اسلام مبارک دين مسلمانانو ته د روغې جوړې لارښوونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.
ـ څو زده کوونکي دې په وار سره متن ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.
ـ یو زده کوونکی دې د ټولګي مخې ته راشي، د (روغې، جوړې، اسلام او سوله) کلمې دې پر تختې ولیکي او نور دې یوه یوه کلمه په جملو کې استعمال کړي.
ـ څو زده کوونکي دې په خپل وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د روغې جوړې د ګټو په اړه دې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
یووالی	اتحاد - یو موټی کېدل
ټولنه	جامعه

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست ولولي او بیا دې څو ځلې په خپلو کتابچوکې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماینونه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د ماینونو په زیانونو پوهېدل.

پوښتنې:

ـ په پورته انځورکې څه وینئ؟

ـ تاسې ماینونه لیدلي او هغه پیژنئ؟

ماین زمور پټ دښمن دی. ماینونه تل د مرګ او ژوبلې سبب ګرځي.

ماینونه د قلم، ساعت، موبایل او د لوبو د شیانو په څېر جوړ شوي دي.

له دې امله ناپېژندل شوو شیانو ته باید لاس ورنه وړو.

د ماین د لیدلو پر وخت باید مشرانو ته خبر ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ څو زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته په وار سره متن د ټولګي په مخ کې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي. له هرې ډلې څخه دې یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راشي او د ماینونو په اړه دې خبرې وکړي.

ـ زده کوونکي دې لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي او تش ځایونه دې په مناسبو کلمو ډک کړي (ډولونه، زمود، شیانو، پټ).

ـ ماین ..... دښمن دی.

ـ تاسې باید ناپېژندل شوو ..... ته ګوتې ورنه وړئ.

ـ ماین ببلابېل ..... لري.

ـ څو زده کوونکي دې د ماینونو په اړه خپل معلومات نورو ته وړاندې کړي.

لغتونه	معناوې
تل	همیشه
په څېر	په ډول

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن څو ځلې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترافيکي لارښوونې

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د ترافيکي اشارو پېژندل او مراعتول.





پوښتنه:

ـ په پورتنيو انځورونو کې څه وينئ؟

په ښارونو کې ترافيکي ګڼه ګوڼه وي، که تاسو ښار ته ولاړئ، له سړک څخه د تېرېدو پرمهال ترافيکي نښو ته پاملرنه وکړئ، که ترافيکي نښه شنه وه، لومړی ښي او کين پلو ته وګورئ او له سړک څخه په ټاکلي ځای کې تېر شئ، د سړک په منځ کې مه درېږئ او مندې مه وهئ. ترافيکي لارښوونو ته پاملرنه له پېښو مخنيوی کوي او انسانان له خطر څخه ژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ زده کوونکي دې په خپلو ډلو کې د ترافیکي اشارو په هکله خبرې وکړي.

ـ زده کوونکي دې لاندې کلمې په جملو کې استعمال کړي.
(ځای، ښار، پاملرنه، خطر).

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او له سړک څخه د تیریدو پر مهال دې د ترافیکي نښو په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
پاملرنه	توجه
مهال	وخت
کیڼ	چپ
مخنیوی	مخه نیول

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست څو ځلې په کور کې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتيا

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، او روغتيا ته پاملرنه.

پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر روغتيا څه ته وايي؟

زما روغتيا خوښه ده تازه هوا خوښه ده
لوبي مستي کومه زما بڼکلا خوښه ده
ځکه ځان پاک ساتمه حد د خوراک ساتمه
ځکه خوشحاله يمه خلاص له جنجاله يمه

ارواښاد غلام حضرت روغمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته په وار سره متن ولولي.

ـ زده کوونکي دې د خپل ځان د پاکوالي په اړه په وار سره خبرې وکړي.

ـ زده کوونکي دې د (هوا، پاک، ښکلا، روغتیا) کلمې په خپلو کتابچو کې په تورو واړوي.

ـ څو زده کوونکي دې لاندې کلمې په لنډو جملو کې وکاروي:

روغتیا، ښکلا، خوراک، لوبې

ـ زده کوونکي دې د بیتونو خالي ځایونه پر مناسبو کلمو ډک کړي.

زما..... خوښه ده.

تازه هوا..... ده.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه پورته شعر په ښکلي غږ ولولي.

لغتونه	معناوې
روغتیا	صحت
حد	اندازه

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې پورتنی شعر په خپلو کتابچو کې ولیکي او په یاد دې زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متلونه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د متلونو په مفهوم پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر متلونه څه اهميت لري؟

خپل عمل د لارې مل.

څه چې کړې، هغه به رېبې.

لږ خوره، تل خوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متلونه په خپل منځ کې ولولي.
ـ څو زده کوونکي دې په وار سره یو یو متل د کتاب له مخې ولولي.
ـ څو زده کوونکي دې یو یو متل ولولي او د هغه په اړه دې خبرې وکړي.
ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي هر یو دې یو یو متل ووایي.
ـ څو زده کوونکي دې (مل، کرې) کلمې د تختې پر مخ په جملو کې وکاروي.

لغتونه	معناوې
مل	ملګری
ربې	لوکول
کرې	کښت

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې درې درې متلونه ولیکي او بله ورځ دې ټولګیوالو ته ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناروغۍ رقعه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د ناروغۍ د رقعې په ليکلو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ د ناروغۍ پرمهال ښوونځي ته څنګه خبر ورکوئ؟

د ميرويس نيکه د ښوونځي محترم مدير صاحب!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

زه ستورۍ د اجمل لور د دريم (ب) ټولګي زده کوونکې يم، نن د ناروغۍ له امله ښوونځي ته نه شم درتلای هيله منه يم چې ناسوبه ونه شمېرل شم.

په درناوي

ستورۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۹۴/۶/۴

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د ناروغۍ رقعه له ځان سره ولولي.

ـ زده کوونکي دې یو بل ته د ناروغۍ د رقعې املا ووایي.

ـ زده کوونکي دې د ناروغۍ رقعه په یاد زده کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي د (ناروغۍ، ستورۍ، لور)کلمې دې پر تختې ولیکي او نور دې په جملو کې وکاروي.

لغتونه	معناوې
هیله	امید
ناسوب	غیر حاضر

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د ښوونځي اداري ته په خپل نوم د ناروغۍ رقعه په خپلو کتابچوکې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکه هوا او پاکې اوبه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د پاکې هوا او د پاکو اوبو په ارزښت پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په نظر پاکه هوا او پاکې اوبه انسانانو ته څه ګټې لري؟

انسانان، څاروي او بوټي پاکو اوبو او هوا ته اړتیا لري، له اوبو او هوا پرته ژوند نه کېږي، ناولې اوبه او هوا روغتیا ته زیان رسوي، باید د ناپاکو اوبو له څښلو او ککړې هوا له تنفس څخه ځانونه وساتو، چې ناروغه نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته نوی متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د تختې مخې ته راشي، یو دې له کتاب څخه یوه جمله ووایي او بل دې پر تختې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه کلمې جوړې کړي.

ر ـ و ـ غ ـ ت ـ ی ـ ا ( )، هـ ـ و ـ ا ( )، ب ـ و ـ پ ـ ي ( )

ـ زده کوونکي دې په وار سره د تختې مخې ته راشي او لاندې کلمې دې په جملو کې وکاروي. (اړتیا، هوا، اوبه، کار).

ـ څو زده کوونکي دې په وارسره د ټولګي په وړاندې د ناپاکې هوا او اوبو په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
اړتیا	ضرورت
ناولې	ناپاک
ککړې	ناپاکي- آلوده

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لوست متن ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د رښتیا په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په نظر رښتیا او صداقت کومې ګټې لري؟

یوه هلک په بازار کې قلمونه خرڅول. د یوه قلم بیه پنځه افغانۍ وه.

یوه سړي یو قلم واخیست. د پنځو افغانیو پرځای یې لس افغانۍ ورکړې او روان شو. د هلک دې ټکي ته پام شو چې هغه سړي لس افغانۍ ورکړي دي. هلک په منډه ور پسې ورغی. پنځه افغانۍ یې بېرته ورکړې. اخیستونکي ترې منډه وکړه، ورته ویې ویل: شاباس! یو ښه هلک باید ستا په شان صادق او رښتینی واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي، په وار سره دې متن د ټولګي په وړاندې ولولي.

ـ زده کوونکي دې لاندې کلمې د تختې پرمخ په جملو کې وکاروي.

پام، منډه، اخیستل، خرڅول

ـ څو زده کوونکي دې د ربړتیا او صداقت په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
منډه	ځغاسته، تېښته
خرڅول	پلورل

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د نن ورځې لوست په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کور په کارونو کې مرسته

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د خبرو کولو وړتیا پیدا کول.



پوښتنه:

ـ تاسې له چا سره مرسته کړې ده؟

زرغونه او احمد خور او ورور دي. دواړه په ښوونځي کې زده کړې کوي. کله چې له ښوونځي څخه کور ته راشي له ډوډۍ خوړلو وروسته له مور او پلار سره د کور په کارونو کې برخه اخلي. د دوی د ګډ کار له امله ټوله کورنۍ خوښ او نیکمرغه ژوند کوي.

ښه زده کوونکي هغه دي چې د کور په کارونو کې له مور او پلار سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د لوست متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د لوست مطلب دې په خپله ژبه ووايي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د تختې مخې ته راشي، یو دې له کتاب څخه څو کلمې د املا په توګه ووايي او بل دې پرتختې وليکي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د مرستې په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
نېکمرغه	خوشبخته
مرسته	کومک

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د نن ورځې لوست د کتاب له مخې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاپېریال ساتنه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د چاپېریال ساتنې په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر د چاپیریال پاک ساتل څه ګټې لري؟

د کور له انګړ څخه نیولې تر ښوونځي او زمونږ د لوبو ځایونه زمونږ چاپیریال دی.
په چاپېریال کې اوبه، هوا، باغونه، سیندونه، ځنګلونه، دښتې او غرونه شامل دي.
که چاپیریال پاک او ښکلی و، زمونږ ژوند به سم او روغتیا به مو ښه وي. مونږ باید د چاپیریال په پاک ساتلو کې زیار وباسو. ونې او ګلان وکرو، د ونو ښاخونه مات نه کړو. د کور خځلې او کاغذونه په یوه ټاکلي ځای کې واچوو. که دا کارونه مو سرته ورسول، نو زمونږ چاپیریال به پاک وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د لوست متن له ځان سره ولولي.

ـ زده کوونکي دې یو بل ته د لوستل شوي متن څو کلمې املاء ووایي او نور دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د (چاپېریال، پاک، روغتیا) کلمې په جملو کې وکاروي.

ـ څو زده کوونکي دې د ناپاکو شیانو د بې ځایه اچولو په اړه خبرې وکړي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه په وار سره ووایي چې خپل شاوخوا چاپېریال څنګه پاک ساتلای شي؟

لغتونه	معناوې
انګړ	حویلي
زیار	کوښښ
ښاخونه	څانګې

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د چاپېریال په اړه څو جملې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غاښونو ساتنه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د غاښونو د ساتلو په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ په پورتني انځورکې څه شی وینئ؟

غاښونه د انسان د ښکلا او د خوړو د ژوولو ښه وسیله ده.

د دې لپاره چې غاښونه مو خراب نشي، نو په غاښونو کلک شیان نه ماتوو.

هر سهار او مابنام خپل غاښونه په مسواک یا برس مینځو.

که غاښونه مو وخوږېږي، د غاښونو ډاکټر ته ځو. اړینه ده چې خپل غاښونه پاک وساتو، ترڅو د غاښونو په درد اخته نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته له ځان سره متن ولولي.
ـ یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي، د (کلک، ښکلا، غاښونه) کلمې دې پر تختې ولیکي او نور دې په وار سره په جملو کې وکاروي.

ـ یو زده کوونکی دې له متن څخه څو جملې ولولي او نور دې د املا په توګه ولیکي.
ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د غاښونو د پاک ساتلو په اړه دې خبرې وکړي، نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې سوچ وکړي، چې که د (ماښام) کلمه سرچپه شي، څه شی ترې جوړیږي. بیا دې یو تن د نورو په استازیتوب د تختې پر مخ ولیکي.

لغتونه	معناوې
خواړه	غذا
ژوولو	میده کولو

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د غاښونو د ساتلو د ګټو په هکله څو جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمورږ هېواد

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، د خپل هېواد پېژندل او له هغه سره مینه لرل.

پوښتنه:

ـ په پورتني انځور کې څه وینئ؟

زمورږ هېواد افغانستان دی. زمورږ هېواد لوړ غرونه، ګڼ ځنګلونه، ودانې ځمکې او ښکلي باغونه لري. زمورږ په هېواد کې هر ډول غلې، دانې او میوې کرل کېږي.

پر مورږ خپل هېواد ډېر ګران دی. باید خپل هېواد په علم او پوهې سره وډان کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د متن یوه یوه جمله دې ولولي، نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې د (هېواد، غرونه، باغونه) کلمې د تختې پرمخ ولیکي او نور زده کوونکي دې په وارسره په جملو کې وکاروي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د تختې مخې ته راشي، یو دې د کتاب له مخې دوې جملې د املا په توګه ووایي او بل دې ولیکي.

ـ دوه زده کوونکي دې د ټولګي په مخ کې د هېواد په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
لوړ	جګ
ودان	آباد

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او بیا دې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوونځي آداب

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، د ښوونځي په آدابو پوهېدل او د هغو مراعاتول.

پوښتنه:

ستاسو په فکر د ښوونځي آداب څه ته وایي؟

ښوونځی د ښوونې او روزنې ځای دی. د ښې زده کړې لپاره باید زده کوونکي پر خپل وخت ښوونځي ته راشي، ښوونځي او ټولګي ته د ننوتلو په وخت نوبت په پام کې ونیسي.

د ښوونکو درناوی وکړي. ټولګی او د ښوونځي انګړ پاک وساتي.

خپل لوست ښه ولولي. کورنۍ دنده سرته ورسوي. تر څو خلکو او هېواد ته ښه خدمت وکړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د ښوونځي د آدابو په اړه دې خبرې وکړي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د تختې مخې ته راشي، یو تن دې ورته د کتاب له مخې څو لغتونه د املا په توګه ووایي او بل دې د تختې پرمخ ولیکي.

ـ یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د: (آداب، ښوونځي، انګړ) کلمې دې پرتختې ولیکي او نور دې په خپلو کتابچو کې ورته جملې جوړې کړي.

ـ دوه زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او په وار سره دې ووایي، چې په ښوونځي کې کوم کارونه سرته رسوي.

لغتونه	معناوې
درناوی	احترام
انګړ	حویلی

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې نوی لوست په کور کې ولولي او بیا دې په ښکلي خط په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د سولې په اهمیت پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر سوله څه ته وایي؟

سوله نېکمرغي راولي. په سوله کې ژوند خوږ وي. ښوونځي پرانیستي وي، ماشومان خوشحاله او ښوونځي ته ځي. په سوله کې امن را منځته کېږي او هېواد پرمختګ کوي. زما سوله خوښېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.
ـ څو زده کوونکي دې د لوست متن د ټولګي مخې ته په لوړ غږ ولولي.
ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته د سولې ګټې بیان کړي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د (سوله، نېکمرغي، ژوند) کلمې دې په جملو کې وکاروي او بیا دې یوه، یوه جمله په تختې ولیکي.

لغتونه	معناوې
پرانیستي	خلاص
امن	آرامي
پرمختګ	ترقي

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د سولې ګټې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پندونه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د پندونو په اهميت پوهېدل او په ژوند کې عملي کول

پوښتنه:

ستاسو په فکر پندونه څه ګټې لري؟

نبه ماشومان پندونو او نبو خبرو ته غوږ نيسي.

د مور، پلار او نبوونکي د پندونو اورېدل نبه کار دی.

څوک چې د مشرانو په پندونو عمل کوي له خپلو کړنو څخه نه پښېمانېږي.

د نبو پندونو اورېدل انسان نيکمرغه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته پندونه له ځان سره ولولي.

ـ څو زده‌کوونکي دې د پندونو په مطلب د ټولګي په مخ کې لنډې خبرې وکړي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي، یو دې د کتاب له مخې د املا په توګه د (ښه، انسان او نېکمرغه) کلمې ووایي او بل دې پرتختې وليکي.

ـ څو نور زده کوونکي دې په خپله خوښه د تختې مخې ته راشي، پر تختې لیکل شوې کلمې دې په جملو کې استعمال کړي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي که کوم پند یې زده وي نورو ته دې ووایي.

لغتونه	معناوې
پندونه	نصیحتونه
مشرانو	لویانو

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د کتاب پندونه په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط وليکي او په یاد دې زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشومانو ترمنځ سپې اړیکې

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د ماشومانو د سپو اړیکو په سپېګڼو پوهېدل.

پوښتنه:

ستاسو په فکر د ماشومانو نه ځورول څه ګټې لري؟

ماشومان یو د بل خویندې او ورونه دي. دوی باید په خپل کور، کلي او سپوونځي کې یو بل سره سپې اړیکې ولري. د ماشومانو په خوشحالولو له مور څخه الله ﷻ راضي کیږي مور، پلار او نور خلک خوشحالیږي. ماشومان باید هر وخت یو له بل سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د نوي لوست متن په خپلو منځو کې ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې تختې مخې ته راشي، یو دې د کتاب له مخې د املا په توګه څو کلمې ووایي او بل دې پرتختې ولیکي.

ـ زده کوونکي دې د (ښې اړیکې، خویندې، ښوونکي) کلمې پرتختې ولیکي او نور دې په وارسره یوه یوه کلمه په جملو کې وکاروي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د ماشومانو د ښو اړیکو په هکله دې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
اړیکې	رابطې
ماشومان	کوچنیان

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن څو ځلې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يووالی

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د يووالي په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ستاسو په فکر يووالی څه ګټې لري؟

د خلکو يو موټي کېدلو ته يووالی وايي. الله ﷻ په يووالي رضا کېږي او خپلو بندګانو ته د يووالي امر کوي.

د هېواد خپلواکي په يووالي ساتل کېږي.

د خلکو يووالی سوله منځ ته راوړي. په يووالي هېواد ودانېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې لاندې کلمې په جملو کې وکاروي:

(هېواد، خپلواکي، سوله)

ـ یو زده کوونکی دې د (سوله، یووالی او هېواد) کلمې پرتختې ولیکي، څو نور دې په وار سره په جملو کې وکاروي.

ـ زده کوونکي دې له متن څخه هغه کلمې پیدا کړي چې (و) پکې راغلی وي، بیا دې هغه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې د یووالي په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
یووالی	یو موټي کېدل، اتحاد
هېواد	وطن

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوړی

موخه: د متن لوستل، سم لیکل، د اوړي د موسم پېژندل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په نظر اوړی د کال څوم فصل دی؟

اوړی د کال دویم فصل دی. دا فصل هم لکه پسرلی درې میاشتې لري. د میاشتو نومونه یې (چنګاښ، زمری، وږی) دي. په اوړي کې هوا ډېره توده وي، غلې او مېوې پخېږي. زده کوونکي دې د اوړي په تودې هوا کې له اړتیا پرته نه ګرځي، له لمر څخه دې ځانونه وساتي چې ناروغ نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي، بيا دې څو زده کوونکي په وارسره د اوړي په اړه خبرې وکړي.

ـ زده کوونکي دې د اوړي د مياشتو نومونه د کتاب له مخې په خپلو کتابچو کې وليکي.

ـ زده کوونکي دې له لاندې تورو څخه کلمې جوړې کړي:

ف ـ ص ـ ل ( )، چ ـ ن ـ گ ـ ا ـ ښ ( )، ز ـ م ـ ر ـ ی ( )

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره لاندې کلمې د تختې پرمخ په جملو کې وکاروي:

(پسرلی، اوړی، مېوې، ناروغ)

لغتونه	معناوې
چنگاښ	سرطان
زمری	اسد
وږی	سنبله

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د هغو مېوو نومونه وليکي چې په دې موسم کې پېښيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ونو ګټې

موخه: د متن سم لوستل، ليکل د ونو په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ستاسو په نظر ونې کومې ګټې لري؟

ونې له ژوندیو موجوداتو څخه دي. د ونو وچې او تازه مېوې خوړل کېږي او له لرګیو څخه يې د ودانیو په جوړولو کې کار اخیستل کېږي. ونې د چاپېریال په ښکلا او د هوا په پاکوالي ډېره اغېزه لري. هر څوک باید د خپل چاپېریال د سمسورتیا او ښکلا لپاره ونې کینوي او ښه پالنه يې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.
ـ څو زده کوونکي دې د ونو پر ګټو خبرې وکړي او نور دې ورته غوږ ونیسي.
ـ زده کوونکي دې لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي او بيا دې په تورو وويشي.
ونې ـ پالنه ـ چاپيريال ـ ښکلا.

ـ یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د (تازه، سمسورتیا، اغېزه) کلمې دې پر تختې وليکي او نور زده کوونکي دې یوه یوه کلمه د تختې پرمخ په جملو کې وکاروي.

ـ زده کوونکی دې له متن څخه لاندې جملې بشپړې کړي.
ونې له ژوندیو ..... څخه دي.
ونې د چاپېریال په ښکلا او د هوا په پاکوالی ..... لري.

لغتونه	معناوې
اغېزه	تاثیر
ښکلا	ښایست

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې لوست په ښکلي خط وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت ارزښت

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د وخت په ارزښت پوهېدل.

پوښتنه:

ستاسو په فکر وخت څه ارزښت لري؟

هرې شېبې ته وخت وايي. وخت له سرو زرو څخه زيات ارزښت لري. مورِ بايد خپل ارزښتمن وخت بې ځايه تېر نه کړو. زده کړې وکړو، له مور او پلار سره په کارونو کې مرسته وکړو او خپلې ورځنۍ چارې په ټاکلي وخت تر سره کړو. چې خپلې کورنۍ، ټولنې او ټولو انسانانو ته د خدمت وړ وګرځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن ولولي بيا دې يو تن د ټولګي مخې ته راشي او د لوست په اړه دې خبرې وکړي.

ـ زده کوونکي دې لاندې کلمې په جملو کې وکاروي.
(مرسته- وخت- ارزښت- ورځنۍ)

ـ يو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د (کورنۍ، مور، پلار او خدمت) کلمې دې پر تختې وليکي او څو نور دې په وار سره يوه يوه کلمه د تختې پرمخ په هيجا ووېشي او نور دې ورته پاملرنه وکړي.

لغتونه	معناوې
مرسته	کومک
شېبې	د وخت ډېرې لږې اندازې ته ويل کېږي، لحظه

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست په کور کې ولولي او بيا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند او کار

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د کار په ګټو او ارزښت پوهېدل.



پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر کار کول څه ګټې لري؟

ژوند د لوی الله ﷻ ښه نعمت دی. د ژوند د پایښت او ښه والي لپاره کار ته اړتیا ده. بې کاره ژوند معنا نه لري. هر څوک باید کار وکړي. هېڅوک باید خپل وخت وزګار تېر نه کړي. ځکه چې د یوه هېواد جوړونه او پرمختګ په ښوونه، روزنه، کار او زیار پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره نوی لوست په لوړ غږ ولولي.

ـ یو زده کوونکی دې د (نعمت، وخت، هېواد، ژوند) کلمې پرتختې ولیکي او نور دې په جملو کې وکاروي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د تختې مخې ته راشي د لوست په اړه دې خبرې وکړي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې د متن یوه جمله د املا په توګه ووایي او نور دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

لغتونه	معناوې
زیار	کوښښ، زحمت
پرمختګ	ترقي
پایښت	بقا، ژوندي پاتې کېدل

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست په کور کې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزګر

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د بزګر د کار او زيار په ارزښت پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر د بزګر کار څه ارزښت لري؟

انسانان، څاروي او مرغان د ژوند کولو لپاره خوړو ته اړتيا لري.

بزګران موږ ته غنم، جوار، وريژې، سابه او داسې نورې غلې، دانې کري. د بزګرانو د زيار له برکته موږ خپل خوراکي توکي او نورې اړتياوې ترلاسه کوو. بايد د بزګرانو درناوی وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي لوست دې په لوړ غږ ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي یو دې د کتاب له مخې څو کلمې د املا په توګه ووایي، نور دې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې د بزګرۍ په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
څاروي	حیوانات
توکي	شیان
اړتیاوې	ضرورت

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن په کور کې ولولي او بیا دې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترکانۍ

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او ترکانۍ د کسب په ارزښت پوهېدل.

پوښتنې:

ـ په پورتنۍ انځور کې څه وینئ؟

ـ ستاسو په فکر ترکانۍ له لرګیو څخه کوم شیان جوړوي؟

ترکانۍ ډېر ښه کسب دی. ترکانۍ ته ټول خلک اړتیا لري. د اجمل مشر ورور ترکانۍ دی. هغه په خپلې اړې، ترښځې، رندې، برمې او سکنې باندې ښکلي او ګټور شیان، لکه: رایلونه، میزونه، څوکۍ، دروازې، الماري، کړکۍ، کټونه، سپارې او مالې جوړوي. مور باید د ترکانۍ درناوی وکړو، ځکه چې د هغه ګټه او خیر ټولنې او خلکو ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ترکانۍ د کسب په اړه خبرې وکړي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې د جملو تش ځایونه په لاندې کلمو ډک کړي:

(ورور، ښه، خلک، اړتیا)

ـ ترکانۍ ډېر ( ) کسب دی.

ـ ترکان ته ټول ( ) اړتیا لري.

ـ د اجمل ( ) ترکان دی.

ـ څو زده کوونکي دې د (ترکان، اجمل، برمه، څوکۍ) کلمې د تختې پرمخ په جملو کې راوړي.

ـ څو زده کوونکي دې په ټولنه کې د ترکانۍ په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
ترکان	نجار
کسب	مسلک
ترښخ	تیشه

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برېښنا

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د برېښنا په ګټو پوهېدل.



پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر له برېښنا څخه کومې ګټې اخيستل کېږي؟

له برېښنا څخه د ژوند په ډېرو برخو کې کار اخيستل کېږي. کورونه روښانه او تودوي. مور له راډيو، ټلوېزيون، کمپيوټر، يخچال او نورو برقي وسايلو څخه هم د برېښنا په وسيله کار اخيستلای شو. مور بايد د برېښنا له بې ځايه لګښت څخه مخنيوی وکړو. برېښنا ځينې خطرونه هم لري. که چېرې له برېښنا سره بې پروايي وشي، د مړينې لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې نوی متن په لوړ او مناسب غږ ولولي.

ـ یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د (برېښنا، اوبه، راډیو او ښار) کلمې دې د تختې پرمخ ولیکي او نور دې په وار سره له یوې یوې کلمې څخه په خپلو کتابچو کې جملې جوړې کړي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د تختې مخې ته راشي او د برېښنا د ګټو په هکله دې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
برېښنا	برق
لامل	سبب، علت
لګښت	مصرف

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې نوی لوست په کور کې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلېفون

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د تلېفون په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

تاسې کله په تلېفون کې خبرې کړې دي؟

تلېفون د اړيکو ټينګولو وسيله ده. د لومړي ځل لپاره د ګراهامبل له خوا اختراع شو، تلېفون دېر ډولونه لري. تر ټولو ښه يې مبايل دی. زمور په هېواد کې له ټولو ډولونو څخه ګرځنده تلېفون زيات کارول کېږي.

مور ته په کار ده چې له تلېفون څخه سمه ګټه واخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن په خپلو منځونو کې ولولي.
ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د تختې مخې ته راشي، نوی لوست دې په لوړ او مناسب غږ ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وارسره د تختې مخې ته راشي د (مبایل، تلېفون او ګټه) کلمې دې په جملو کې وکاروي.
ـ څو زده کوونکي دې په وارسره د ټولګي مخې ته راشي، د تلېفون د سمې کارونې په هکله دې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
اختراع	دیوه نوي شي منځته راوړل
ګرځنده	سیار

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې (تلېفون، چټک، وسیله) کلمې ولیکي او بیا دې په جملو کې وکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترانه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د ترانې په مفهوم پوهېدل.

پوښتنه:

ـ تاسو کوم وخت په ډله ییزه توګه ترانه ویلې ده؟

دا زمـــوږ زېبـــا وطـــن　　دا زمـــوږ لـــيـلا وطـــن
دا وطـــن مـــو ځـــان دی　　دا افـغـانـســتـان دی
وايـــي پـــه خـــاپـــوړو کې　　داســـې مـاشـومـان زمـوږ
دا مـــو د دادا وطـــن　　دا مـــو د بـــابـــا وطـــن

پر موږ باندې ډېر ګران دی
دا افـغـانـســتـان دی

(د استاد ملنګ جان خوږې نغمې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته له ځان سره متن ولولي.
ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي، نوموړې ترانه دې په ښکلي غږ ووایي او نور دې ورپسې تکرار کړي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي، یو یو دې د (وطن، دادا، خاپوړو، زیبا، ماشومان، ګران) کلمې پرتختې په جملو کې وکاروي.

ـ که د زده کوونکو کومه بله ترانه په یاد وي، د ټولګي په مخ کې دې ووایي.
ـ څو زده کوونکي دې د خپل هېواد په اړه لنډې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
خاپوړې	هغه ماشوم چې په لاس او پښو ګرځي.
دادا	نیکه او پلار، مشر ورور

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې شعر په کور کې څو ځلې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور او پلار ته لیک

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، اود لیک په ګټو او ارزښت پوهېدل.

پوښتنه:

ـ تاسې کوم وخت مور او پلار ته لیک لیکلی دی؟

ګرانه پلاره او مهرباني موري، السلام علیکم و رحمة الله وبرکاتهُ!

د دې لیک تر لیکلو روغ او جوړ یم. کلنۍ ازموینه مې پای ته رسېدلې، که د لوی الله ﷻ رضا وي، ستاسو د دعا په برکت به په دې نژدې شپو او ورځو کې کور ته راستون شم.

په درنښت

ستاسو د لیدو په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته د لوست متن له ځان سره ولولي.
ـ زده کوونکي دې یو بل ته د متن املا ووایي.
ـ زده کوونکي دې متن په یاد زده کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.
ـ زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د لیک د اړتیا په هکله دې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
ازموینه	امتحان
راستون	راګرځېدل

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې مور او پلار ته یو لیک ولیکي او بله ورځ دې د نورو په وړاندې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزني

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د غزني ولايت پېژندل.

پوښتنې:

ـ په پورته انځور کې څه وينئ؟

ـ د غزني ولايت په اړه مو څه اوريدلي دي؟

غزني د افغانستان يو لرغونی ولايت دی.

غزني پخوا د افغانستان مرکز او د علم زانګو وه. په غزني کې ډېر لرغوني ځايونه، لکه: بالا حصار، د سلطان منار او داسې نور تاريخي ځايونه شته.

له همدې کبله په دې وروستيو وختونو کې د غزني ښار د اسلامي تمدن د مرکز په نامه ونومول شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي د غزني په اړه دې خبرې وکړي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي یو بل ته دې له کتاب څخه څو کلمې د املا په توګه ووایي او نور دې پرتختې وليکي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د تختې مخې ته راشي د (غزني، افغانستان، آثار، منار، زانګو) کلمې دې په ساده جملو کې وکاروي.

لغتونه	معناوې
لرغونی	پخوانی
تمدن	پیشرفت او ترقي

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې نوی لوست په کور کې څو ځلې ولولي او بیا دې په ښکلي خط په کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزلوبه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، د وزلوبې په هکله د معلوماتو ترلاسه کول.

پوښتنه:

ـ تاسو کله د وزلوبې نندارہ کړې ده؟

وزلوبه زمونږ په هېواد کې یوه لرغونې لوبه ده. دا لوبه په لوی میدان کې ترسره کېږي. نومورې لوبه د دوو سیالو ډلو ترمنځ د حلال له دایرې څخه پیل کېږي. په دې لوبه کې ګډون کوونکي له یوه ټاکلي ځای څخه وزه را تاووي، هرې ډلې چې وزه بېرته د حلال دایرې ته ورسوله، ګټونکی بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د متن یوه یوه برخه دې په لوړ غږ ولولي.

ـ زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په لاندینیو کلمو سره ډک کړي: (پیل، ډلو، لرغونې)

ـ وزلوبه زموږ په هېواد کې ( ) لوبه ده.

ـ نوموړې لوبه د دوو سیالو ( ) ترمنځ د حلال له دایرې څخه پیل کېږي.

ـ دا لوبه پّ لوی میدان کې ( ) کیږي.

ـ یو زده کوونکی دې د (لوبه، میدان، ګټونکی) کلمې پرتختې ولیکي، نور دې په خپله خوښه په وار سره په جملو کې وکاروي.

ـ څو زده کوونکي دې د خپل کور، کلي یا ولسوالۍ د لوبو په اړه خبرې وکړي.

لغت	معنا
ګډون	اشتراک

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې نوی لوست په کور کې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خوسي لوبه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د خوسي لوبې په هکله معلومات ترلاسه کول.

پوښتنه:

ـ تاسې د خوسي لوبې په هلکه څه پوهېږي؟

د خوسي لوبه زمور په هېواد کې يوه سيمه ييزه لوبه ده چې د ماشومانو او تنکيو ځوانانو له خوا ترسره کيږي. دا لوبه د دوو مساوي ډلو ترمنځ سرته رسيږي. يوه ډله يې د ټوپې ساتونکي او بله يې د خوسې پلوي ډله وي. په دې لوبه کې يوه ډله غواړي چې ټوپې له منځه يوسي او بله ډله ټوپې ساتي. که چېرې هرې ډلې ټوپې په پرله پسې توګه ووهله او ونه سوځېده، د لوبې ګټونکې بلله کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او په وار سره دې نوموړی لوست د خپلو ټولګیوالو پر وړاندې ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ زده کوونکي دې د (ټوپۍ، خوسی، مساوي او ګټونکې) کلمې د تختې پرمخ په جملو کې استعمال کړي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپل وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د نوموړې لوبې په هکله دې خبرې وکړي.

ـ یو زده کوونکي دې د متن یوه جمله د املا په توګه ووایي او نور دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

لغتونه	معناوې
پلوي	طرفداري
تنکي ځوانان	نوي ځوانان

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د خوسي د لوبې په اړه څو جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د اور په ګټو او زيانونو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسې په فکر اور څه ګټې لري؟

انسانان اور ته ډېره اړتيا لري. خلک په اور خواړه پخوي او په ژمي کې وربانديې ځانونه او کورونه تودوي. له اور سره لوبې کول ژوند ته خطر لري.

مور بايد د اور بلولو په وخت کې له ډېر احتياط څخه کار واخلو، اور اخيستونکي شيان لکه: تېل، ګاز او نور له اور څخه لرې وساتو چې ځان او کور ونه سوځوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او د اور په ګټو او زیانونو دې خبرې وکړي.

ـ څو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د: (اړتیا، خلک او خواړه) کلمې دې د تختې پرمخ ولیکي او څو نور دې په خپله خوښه پورته یوه یوه کلمه په جملو کې وکاروي.

ـ یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي، د متن یوه جمله دې نورو ته د املا په توګه ووایي.

لغتونه	معناوې
بلول	روښانول
اړتیا	ضرورت

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست ولولي او بیا دې په ښکلي خط په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر حېواناتو زړه سوی

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، په څارویو (حیواناتو) زړه سوی.

پوښتنه:

آیا ستاسو په نظر په څارویو زړه سوی ښه کار دی؟

یوه ورځ یو سړی په لاره تېرېده، ډېر تږی شو، له څاه څخه یې اوبه وڅښلې گوري چې یو سپی ډېر تږی دی، له څاه څخه یې اوبه را وایستلې او سپي ته یې ورکړې، هغه یې له مرگ څخه وژغوره. لوی الله ﷻ د هغه سړي ټولې گناوې د همدې زړه سوي له امله ور وبخښلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې متن په وار سره په لوړ غږ ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي، د (سړی، ورځ، تږی، څاه) کلمې دې پرتختې وليکي او څو نور دې یوه یوه کلمه په جملو کې وکاروي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپل وار سره د ټولګي مخې ته راشي په څارویو باندې دې د زړه سوي په هکله خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
ژغورل	نجات ورکول
څاه	کوهی

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست څو ځلې په کور کې ولولي او بیا دې په ښکلي خط په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، د کار په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ په پورتني انځور کې څه وینئ؟

ټولو کړو وړو ته کار ویل کیږي، لکه: درس ویل، د کور د کارونو سرته رسول، بزګري، ترکاڼي، سوداګریز کارونه او نور.

په کار کولو ژوند ښه او شتمني ترلاسه کیږي، نېک نوم او شهرت په کار کولو لاس ته راځي.

مور او تاسي باید کار وکړو، ترڅو ښه او ښکلی ژوند ولرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې متن په وار سره په لوړ غږ ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي، د (ژوند، کار او نیک) کلمې دې د تختې پرمخ ولیکي او نور دې په خپله خوښه یوه یوه کلمه په جملو کې وکار وي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د تختې مخې ته راشي او د متن ځینې کلمې دې د املا په توګه ولیکي.

لغتونه	معناوې
ترکاڼي	نجاري
شتمني	پانګه
سوداګریز	تجارتي

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست ولولي او بیا دې په ښکلي خط په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليک نښې

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د ليک نښو پېژندل او په کارولو يې پوهېدل.

؟ ، .

پوښتنه:

تاسو ليک نښې پېژنئ او کله مو په ليکنو کې کارولي دي؟

ټکی (.): هغه نښه ده چې د پوره جملې په پای کې ايښودل کېږي، لکه: زه ښوونځي ته ځم.

کامه (،): هغه نښه ده چې د کلمو د ډلو لپاره کارول کېږي. لکه: په افغانستان کې غنم، جوار، وريژې او اوربشې کرل کېږي.

سوالیه (؟): دا نښه د هغو جملو په پای کې راوړل کېږي چې پوښتنه پکې شوې وي، لکه: آيا تاسو خپله کورنۍ دنده ليکلې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته نوی متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره متن په لوړ غږ ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې (کامه، سوالیه او ټکی) پرتختې ولیکي او نور دې د لاندینیو جملو په مناسبو ځایونو کې وکاروي.

۱ ـ احمد ښوونځي ته ځي ( )

۲ـ زما په بکس کې قلم ( ) پنسل ( ) کتاب ( ) او کتابچه شته ( )

۳ـ ته چېرې ځې ( )

ـ یو زده کوونکی دې د (غنم، جوار، اوربشې) کلمې پرتختې ولیکي او نور دې په خپل وار سره پورته کلمې په جملو کې وکاروي.

لغتونه	معناوې
پوره	بشپړ
کورنۍ	فامیل

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن هغه جملې ولیکي چې پورتنۍ لیک نښې په کې کارول شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلمه

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د ساده کلمو په معنا او جوړښت پوهېدل.

پوښتنه:

ـ ستاسې په فکر کلمه څه ته وايي؟

کلمه معنا لرونکي لفظ ته ويل کېږي، لکه: کور، قلم، کتاب، لاس، څوکۍ، مېز او داسې نور.

کلمه له تورو څخه جوړېږي، لکه:

ک ـ و ـ ر

ق ـ ل ـ م

ک ـ ت ـ ا ـ ب

م ـ ر ـ ی ـ م

څ ـ و ـ ک ـ ۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته نوی لوست له ځان سره ولولي.

ـ زده کوونکي دې د (کور، کتاب، قلم او لاس) کلمې پرتختې ولیکي او نور دې په جملو کې وکاروي.

ـ زده کوونکي که د (کور) په کلمې کې د (ک) د توري پر ځای (ن) او د (قلم) په کلمه کې د (ق) پر ځای (ع) راوړل شي، کومې کلمې ترې جوړیږي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي د کلمې په اړه دې خبرې وکړي.

لغت	معنا
معنا لرونکي	معنا داره

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د (قلم، کتاب، لاس) کلمې په خپلو کتابچو کې په لنډو جملو کې وکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوکه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل او د ټوکې په مفهوم پوهېدل.

پوښتنه:

آیا تاسو کله کومه ټوکه اوربدلې ده؟

اتل: اجمله، پرون شپه ویده شوی وې؟

اجمل: هو، ښه خوب مې وکړ.

اتل: په خوب کې دې څه ولیدل؟

اجمل: نه، په خوب کې مې څه ونه لیدل، ځکه چې زه په خوب کې سترګې پټوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او نومورې ټوکه دې نورو ټولګیوالو ته له یاده ووایي.

ـ که د اجمل په کلمه کې د (ج) پرځای (ی) همدارنګه که د خوب په کلمه کې د (ب) د توري پرځای د (ر) توری راشي، څنګه لوستل کیږي؟

ـ څو زده کوونکي دې د کتاب له متن څخه یوه یوه جمله د تختې پرمخ په ښکلي خط ولیکي او نور دې په کتابچو کې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او یوه ټوکه دې ووایي.

لغت	معنا
پرون شپه	تېره شپه

کورنۍ دنده:

ټول زده کوونکي دې یوه یوه ټوکه په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمله

موخه: د متن سم لوستل، ليکل او د جملې پېژندل.

پوښتنه:

ـ ستاسو په فکر جمله څه ته وايي؟

د څو کلمو له يو ځای کېدو څخه چې بشپړه معنا ورکړي، جمله جوړېږي. لکه: زه ښوونځي ته ځم. زه له ښوونځي څخه کور ته راغلم. ګلالی له خپل ورور سره سبق وايي. افغانستان پر موږ ګران دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي پر وړاندې نوی لوست په مناسب غږ ولولي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د (بشپړه، ښوونځي، افغانستان) کلمې دې پرتختې ولیکي او نور دې یوه یوه کلمه په تورو ووښي.

ـ څو زده کوونکي دې له لاندینیو تورو څخه کلمې جوړې کړي.

- س ـ ب ـ ق ( )
- ګ ـ ر ـ ا ـ ن ( )
- و ـ ر ـ و ـ ر ( )

ـ څو زده کوونکي دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي او د تختې پر مخ دې یوه یوه جمله ولیکي.

لغتونه	معناوې
بشپړه	پوره
ګران	قدرمن، عزیز

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې څو جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاک خواړه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، د پاکو خوړو پېژندل او د هغو په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ستاسو په فکر کومو خوړو ته پاک خواړه ویل کېږي؟

پاک خواړه هغو خوړو ته ویل کېږي چې ناولي او ککړ نه وي، زمونږ بدن ته زیان ونه رسوي. زمونږ بدن پاکو خوړو ته اړتیا لري. سابه او مېوې مخکې له خوړلو څخه باید په پاکو اوبو ومینځل شي، همدارنګه له خوړو څخه مخکې خپل لاسونه په اوبو او صابون ومینځو، ځکه چې د ناپاکو خوړو او مېوو خوړل ناروغي رامنځته کوي. مونږ ته په کار ده چې د ناپاکو خوړو له خوړلو څخه ډډه وکړو. خواړه باید په پاک ځای کې وساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د خپلو ټولګیوالو پر وړاندې دې متن په لوړ او مناسب غږ ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي یو دې بل ته د کتاب له مخې املا ووایي او بل دې پرتختې ولیکي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي، د پاکو خوړو په اړه دې د خپلو ټولګیوالو پر وړاندې خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
اړتیا	ضرورت
ډډه	ځان ساتل
ناولي	ککړ

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مېوو ګټې

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، د مېوو په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ـ په پورتني انځور کې کومې مېوې وېنئ؟

د مېوو خوړل زمونږ د بدن ودې او قوت ته ډېره ګټه لري.

هره مېوه باید په پاکو اوبو سره ومینځل شي. مونږ باید پاکې مېوې وخورو. د ناولو مېوو او نورو خوراکي شیانو له خوړلو څخه ډډه وکړو، چې ناروغ نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د ځینو مېوو په اړه دې خبرې وکړي او نور دې ورته غوږ ونیسي.

ـ یو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د (قوت، مېوه، ګټه، ناروغ) کلمې دې پر تختې ولیکي او څو نور دې یوه یوه کلمه په جملو کې وکاروي.

ـ یو زده کوونکی دې په خپله خوښه د تختې مخې ته راشي د (پاک، روغتیا، مېوه) کلمې دې پرتختې ولیکي او څو نور دې همدغه کلمې پر تورو ووېښي.

ـ څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او نورو ته دې ووایي چې په هر فصل کې کومې مېوې پیدا کیږي

لغتونه	معناوې
ناروغ	مریض
ناولي	ناپاک

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د ځینو مېوو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې په جملو کې وکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چرګانو ساتنه

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، او د چرګانو د ساتلو په ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ستاسو په فکر د چرګانو ساتل څه ګټې لري؟

زمونږ په هېواد کې ډېر خلک چرګې او چرګان ساتي، ځکه چې د هغوی له هګیو او غوښو څخه ګټه اخیستل کېږي. د چرګانو د ساتلو لپاره ښه ځای په کار دی. د دې لپاره چې چرګان ناروغه نشي، باید په ټاکلي وخت واکسین شي. د اوسېدو ځای یې پاک وساتل شي. د چرګانو خوړو او اوبو ته دې هم پاملرنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته لوست له ځان سره ولولي.

ـ څو زده کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي او د لوست په اړه دې خبرې وکړي.

ـ زده کوونکي دې په لوستل شوي لوست کې داسې کلمې پیدا کړي چې له درو او پنځو تورو څخه جوړې شوې وي.

ـ څو زده کوونکي دې د کورنیو چرګانو په اړه خبرې وکړي.

لغتونه	معناوې
هېواد	وطن
ټاکلی	مشخص، معلوم

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لوست په کور کې ولولي او بیا دې په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي شتمني

موخه: د متن سم لوستل، ليکل، د ملي شتمنيو په مفهوم، ارزښت او ګټو پوهېدل.

پوښتنه:

ستاسو په فکر ملي شتمني څه ته وايي؟

زمونږ په هېواد کې ډېرې ملي شتمنۍ، لکه: ځنګلونه، سړکونه، بندونه د قيمتي ډبرو، سرو زرو، سپينو زرو، سکرو، مسو، او د اوسپنې کانونه همدارنګه د تيلو او ګازو زيرمې شته. ملي شتمني پر ټولو خلکو پورې اړه لري. مونږ ته په کار ده چې د ملي شتمنيو ساتلو ته پاملرنه وکړو.

فعاليتونه:

ـ زده کوونکي دې له ښوونکي څخه وروسته متن له ځان سره ولولي.

ـ يو زده کوونکی دې په خپله خوښه د ټولګي مخې ته راشي د (مسو، تېلو او ګازو) کلمې دې د تختې پرمخ وليکي او څو نور دې په جملو کې وکاروي

ـ يو زده کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د (ځنګلونه، بندونه، سره زر، سپين زر) کلمې دې د تختې پرمخ وليکي او نور دې همدغه کلمې د تختې پرمخ په تورو ووېشي.

ـ څو زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي د ملي شتمنيو په اړه دې خپلو نورو ټولګيوالو ته معلومات ورکړي.

لغتونه	معناوې
زېرمې	ذخيرې
شتمني	سرمايه، پانګه

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library